UNAMA
د ملګرو ملتونو دبشري حقونو څانګه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په وسله واله شخړه کې د ملکیانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال شپږ میاشتنی راپور :**

**د ۲۰۱۸ د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې**

د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږ میاشتو کې، وسله والې جګړې د تیر کال د وژونکې کچې په څیر د ملکي وګړو ژوند او معیشتونو ویجاړول جاري ساتلي. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) د جګړې پر ښکېلو خواوو یو ځل بیا غږ کوي، چې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره هڅې زیاتې کړي او دغه خواوې سوله ییز حل ته د رسیدو لپاره کار کولو ته هڅوي.

د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې، یوناما ۵۱۲۲ ملکي تلفات (۱۶۹۲ مړینې او ۳۴۳۰ ټپیان) مستند کړي- دا د تیر کال په پرتله درې سلنه عمومي کموالی دی - کوم چې د ۲۰۱۷ او ۲۰۱۶ کلونو په ورته موده کې ملکیانو ته د مستند شوي اوښتي زیان ورته کچه منعکس کوي. ملکي مړینه یوه سلنه زیاته شوې په داسې حال کې چې د ملکیانو ژوبله پنځه سلنه راکمه شوې.



د دولت ضد عناصرو له خوا په بریدونو کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو کارونه د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل پاتې شوی. د ځانمرګرو او د دې پرته نور ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو ګډې کارونې نږدې نیمايي (۴۵ سلنه) ملکي تلفاتو لامل شوې. دوامداره تمایل چې د لومړي ځل لپاره د یوناما له خوا په ۲۰۱۷ کال کې مستند شوي، ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو زیاتره تلفات د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله اړول شوي او اوس بیا هم د لوړ ریکارډ ملکي تلفاتو لامل شوي. ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو دویم مخکښ لامل و، چې په تعقیب یې هدفي او عمدي وژنې، هوايي عملیات، او له جګړې څخه پاته شوني چاودیدونکي توکي وو. هغه ولسي وګړي چې په کابل، ننګرهار، فاریاب، هلمند او کندهار ولایتونو کې ژوند کوي، تر ټولو زیات جګړې ځپلي.

په داسې حال کې، چې یوناما د ځینې پیښو د ډولونو په پایله په ملکي تلفاتو کې کموالی مستند کړی ، لکه د ځمکنیو نښتو له امله په ملکي تلفاتو کې ۱۸ سلنه کموالي ، او دغه راز په هدفي او عمدي وژنو کې د پام وړ کموالی، خو بل لور ته نوموړي اداري د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په شمیر کې یو هیښوونکي زیاتوالی مستند کړی، چې له نیمایي زیات یې د اسلامي دولت/خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي.




د ځانګړې اندېښنې وړ ده، چې په ننګرهار ولایت کې ملکي تلفات له نږدې دوه برابرو زیات شوي، او نږدې هغه کچې ته رسیږي چې په کابل کې ثبت شوي.[1] د ننګرهار د ملکي تلفاتو نږدې دوه پر دری برخه ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي، په ځانګړې ډول د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله. په ننګرهار ولایت کې د ملکي تلفاتو نږدې نیمايي برخه د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د بریدونو (ځانمرګو او غیر انتحاري) په پایله کې رامنځ ته شوي، چې مسوولیت یې د اسلامي دولت/خراسان ولایت ډلې په غاړه اخیستی. په کابل ولایت کې د ملکي تلفاتو ۹۵ سلنه د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله

[1] یوناما د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په کابل ولایت کې ۹۹۳ ملکي تلفات (۳۲۱ مړینې او ۶۷۲ ټپیان) مستند کړي، چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله پنځه سلنه کموالی په ډاګه کوي. په ننګرهار ولایت کې نوموړې ادارې ۹۱۱ ملکي تلفات (۳۰۴ مړینې او ۶۰۷ ټپیان) ثبت کړي، چې د ۲۰۱۷ د ورته مودې په پرتله ۱۴۲ سلنه زیاتوالی ښیي.

اوښتي، چې د نیمایي زیات یې د هغو ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله اوښتي، چې مسوولیت یې د اسلامي دولت/خراسان ولایت ډلې منلی.

وسله واله  جګړې د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ښځو ۵۴۴ تلفات (۱۵۷ مړینې او ۳۸۷ ټپیان) اړولي، چې نږدې نیمایي یې د ځمکنیو نښتو له امله دي. ښځې په زیاتیدونکي ډول د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله خپل ژوند له لاسه ورکړی ، او همدارنګه لا اوس هم له هدفي وژنو او هوايي عملیاتو راولاړ شوي ستونزې او کړاو ګالي. که څه هم د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د ښځو عمومي تلفات ۱۵ راکم شوي، خو د هغوي تلفات لا اوس هم د جدي اندیښنې وړ دي.

**ماشومان او وسله واله جګړه**

د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو کړاونو په افغانستان کې ګڼ شکلونه خپل کړي، افغان هلکان او نجونې وژل شوي، ټپیان شوي، له جنسي تیري سره مخ شوي، ناوړه ګټه ورڅخه اخیستل شوې او د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا ګمارل شوي او ګټه ورنه اخستل شوې. د جګړې اړوند تاوتریخوالي د ماشومانو د پوهنې، روغتیا، د ګرځیدو ازادۍ حقونه او همدارنګه نور بنسټیز حقونه لکه د کورنۍ ژوند، له کور څخه باندې لوبې کول او په ساده ډول د جګړې د ظالمو پایلو پرته له ماشومتوب څخه د خوند اخیستل له منځه وړي دي.

یوناما د ۲۰۱۸ په لومړیو شپږو میاشتو کې د وسله والې جګړې له امله د ماشومانو ۱۳۵۵ تلفات (۳۶۳ مړینې او ۹۹۲ ټپیان) ثبت کړي، چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۱۵ سلنه عمومي کموالی په ډاګه کوي. دغه کموالی په ځانګړې ډول د ځمکنیو نښتو پرمهال د ماشومانو د کم شمیر وژنو او ژوبلو له امله دی، خو  بیا هم ځمکنۍ نښتې د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل ګڼل کیږي. نوموړې ادارې همدارنګه د غیر انتحاري ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو له امله د ماشومانو په تلفاتو کې کموالی ثبت کړی، خو له اندیښنې سره د دې یادونه کوي، چې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو او هوایي بریدونو له امله د ماشومانو تلفات زیات شوي او ماشومان لا اوس هم د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو فشاري توکو د تلفاتو یو پر دریمه برخه جوړوي. که څه هم یوناما له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله د پیښې د ډول له امله په تلفاتو کې د عمومي کموالي سره سم، د ماشومانو په تلفاتو کې کموالي ثبت کړي، نوموړې اداره بیا د دغې اندیښنې یادونه کوي، چې ماشومان بیا هم له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله د ملکي تلفاتو ۸۹ سلنه جوړوي.

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د دولت پلوه ځواکونو عملیاتو ته د غبرګون په څیر د معارف په نښه کولو د راڅرګندیدونکي جریان په اړه اندیښنه څرګندوي. په ننګرهار ولایت کې د جون میاشتې په اوږدو کې، د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د هوایي بریدونو په تړاو د ګواښونو په تعقیب، چې د نجونو ښوونځي به په نښه کړي، یوناما دغې ډلې ته منسوب ۱۳ اړوند پیښې ثبت کړې. دغې ډلې د پوهنې چارواکي او ښوونځي په نښه کړل او په جلال اباد کې یې د پوهنې د ریاست په وړاندې ډله ییز برید ترسره کړ، چې له امله یې ټولټال ۲۳ ملکي تلفات (شپږ مړینې او ۱۷ ټپیان) رامنځ ته شول. د لوګر ولایت په چرخ ولسوالۍ کې، د دولت پلوه ځواکونو د عملیاتو په تعقیب، چې د مارچ په وروستیو کې یې د طالبانو د یوه قوماندان کور اغیزمن کړې و، یوناما د طالبانو له خوا د ۲۹ ښوونځیو تړل ثبت کړي.

د ۲۰۱۸ په لومړیو شپږو میاشتو کې، یوناما د ۲۲ هلکانو[2] ګمارنه او هغوې نه ګټه اخستل تایید کړي او د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا یې د اووه هلکانو د ګمارنې او کارونې باوري تورونه مستند کړي.[3] دغه هلکان د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو د خښولو او د ملکي وګړو د وژلو په ګډون، په جګړو کې د ګډون لپاره کارول شوي.[4] سربیره پر دې، یوناما د بچه بازۍ د موخو په

[2] یوناما د ۱۷ هلکانو ګمارنه او کارونه په افغانستان کې تحریک طالبان پاکستان، د دوو ماشومانو داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې؛ او د دریو هلکانو افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب کړې.

[3] یوناما د څلورو ماشومانو ګمارنه او کارونه طالبانو او د دوو نورو افغان ملي پولیسو ته منسوب کړې. یو هلک د دواړو د ملي امنیت د ریاست او طالبانو له خوا کارول شوي.

[4] د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د خښولو او وژلو لپاره د ماشومانو کارونه دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې.

ګډون، د جنسي تیري د پنځو قضیو چې شپږ هلکان په کې ښکیل دي معتبر تورونه مستند کړي، چې افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي.

## ټاکنې

د ۲۰۱۸ د جنوري د لومړۍ او د جنون د ۳۰ نېټو ترمنځ، یوناما په ټاکنو پورې تړلي تاوتریخوالي له امله ۳۴۱ ملکي تلفات (۱۱۷ مړینې او ۲۲۴ ټپیان) ثبت کړي، چې زیاتره (له ۲۵۰ تلفاتو څخه زیات) یې د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو په دوو بریدونو کې چې د اپریل پر ۲۲ په کابل او د مئ پر ۶ په خوست کې ترسره شول، رامنځ ته شوي. په ټاکنو پورې تړلي تاوتریخوالی د اپریل پر ۱۴ د رایه اچوونکو د ثبت له پیلیدو سره پیل شو، له کوم وروسته چې یوناما د تذکرو د ویش پر مرکزونو او رایه اچوونکو د ثبت پر مرکزونو، او دغه راز د ټاکنو پر اړوند کارمندانو، لکه د ټاکنو کار کوونکو، د ټاکنو د مرکزونو لپاره د امنیت برابرولو لپاره پر ځانګړي شویو پولیس افسرانو د ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکو، ځانمرګو بریدونو او هدفي وژنو د کارونې له لارې، بریدونه مستند کړي. نوموړي ماموریت همدارنګه د نوماندانو او د هغوي د ملاتړو ګواښونې، تښتونې او وژنې ثبت کړي.[5]

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ټاکنو پر هغو مرکزونو، چې په ښوونځیو کې ځای پر ځای شوي د بریدونو د اغیزو په اړه اندېښمنه ده. د ۲۰۱۸ له اپریل څخه تر جون پورې د رایه ورکوونکو د ثبت د پروسې پرمهال، یوناما ۳۹ داسې بریدونه مستند کړي، چې په ښوونځیو کې د رایه اچوونکو د ثبت مرکزونه په نښه کوي، چې د ماشومانو د تلفاتو، د ښوونځي د تړلو او د کمې حاضرۍ لامل شوي، او د ماشومانو پر خوندیتوب او پوهنې ته دلاس رسي پر حق ناوړه اغیز کوي. یوناما د ټاکنو په راتلونکو پړاونو کې د دغو مرکزونو لپاره د نورو احتیاطي تدابیرو په پام کې نیولو هرکلی کوي او پر دولت ضد عناصرو یو ځل بیا غږ کوي، چې د ټاکنو اړوند مرکزونو له پر نښه کولو لاس واخلي.

## دولت ضد عناصر

یوناما له اندېښنې سره د دې یادونه کوي، چې د ۲۰۱۸ کال د لومړۍ نیمایي په اوږدو کې دولت ضد عناصرو ته د ملکي تلفاتو منسوب شوي شمیرې په ورته لوړه کچه پاتې دی، د هغو بریدونو په پایله کې د زیاتو شویو ملکي تلفاتو په ګډون، چې ملکي وګړي په نښه کوي. د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د جون تر ۳۰ نېټې پورې، دولت ضد عناصرو ۳۴۱۳ ملکي تلفات (۱۱۲۷ مړینې او ۲۲۸۶ ټپیان) اړولي، چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې سره نږدې ورته دي. یوناما د ټولو ملکي تلفاتو ۶۷ سلنه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي، چې ۴۲ یې طالبانو، ۱۸ داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې، او اوه سلنه نا مشخصو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي (تر یو سلنې کم په ګډون هغه جنګیالیو ته منسوب شوې چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت معرفي کوي).

د دولت ضد عناصرو له خوا ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو ۱۴۱۳ ملکي تلفات (۴۲۷ مړینې او ۹۸۶ ټپیان) اړولي – د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د ۱۲ نورو بریدونو له امله ۲۵۷ نور ملکي تلفات رامنځ شوي.[6] دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې ۲۲ سلنه زیاتوالي څرګندوي. یوناما د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو د ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې، ۴۰ سلنه طالبانو او پاتې نور نا مشخص شویو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

---

[5] د رایه اچوونکو د ثبت د پیل په موده ۱۰ مئ ۲۰۱۸ کې د ټاکنو اړوند بریدونو او تیریو په اړه د یوناما ځانګړی راپور وګورئ، پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[6] یوناما د ۲۰۱۸ په لومړۍ نیمایي کې ۳۶ ځانمرګي او ډله ییز بریدونه مستند کړي، چې ملکي وګړي یې په نښه کړي. د تیر کال په ورته موده کې، یوناما ۲۴ بریدونه مستند کړي وو، چې ۱۱۵۶ ملکي تلفات (۲۵۹ مړینې او ۸۹۷ ټپیان) یې اړولي وو. د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایي کې له ۵۰۰ زیات تلفات د کابل ښار په منځ کې د مئ ۳۱ لارۍ بم له امله رامنځ ته شوي، چې نا مشخص شویو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

د دولت ضد عناصرو د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي، ملکي تلفات د ۲۰۱۷ د لومړۍ نیمایي[7] په پرتله ۲۸ سلنه لوړ شوي، چې په ځانګړي ډول د حکومت پر ملکي ادارو[8] د بریدونو او د ټاکنو اړوند پېښو له امله په ملکي تلفاتو کې د ډېر زیاتوالي له امله ده.[9] د دولت ضد عناصرو هغه بریدونه چې ملکي وګړي په نښه کوي، د ټولو ملکي تلفاتو ۳۵ سلنه او د دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو ۵۳ سلنه جوړوي. د دولت ضد عناصرو د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي له نیمایي زیات ملکي تلفات د هغو بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي چې طالبانو یا داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې یې مسوولیت منلي. د هغو بریدونو په پایله کې ملکي تلفات چې ملکي وګړي په نښه کوي او مسوولیت یې د طالبانو یا داعش/د اسلامي ډلې خراسان ولایت ډلې اخیستی، هر یو یې څلور برابر زیات شوي.[10] په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې د هیښوونکي جریانونو سره په سمون کې، دولت ضد عناصرو همدارنګه د شیعه مذهبه مسلمانانو په وړاندې چې زیاتره یې هزاره توکمه دی، خپل بریدونه جاري ساتلي، او له امله یې ۳۶۶ ملکي تلفات (۱۱۵ مړینې او ۲۵۱ ټپیان) رامنځ ته شوي، چې نږدې ټول یې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې اوښتي چې مسوولیت یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې اخیستی.

د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو فشاري توکو رواني بې توپیره او ناقانونه کارونې ۳۱۴ ملکي تلفات (۱۱۴ مړینې او ۲۰۰ ټپیان) اړولي، چې زیاتره یې طالبانو ته منسوب شوي. یوناما ملاحظه کړې، چې دا د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۴۳ سلنه کموالی څرګندوي . یوناما دغه راز د دولت ضد عناصرو له خوا (په تیره بیا د طالبانو) د ځمکنیو نښتو پرمهال په رامنځ ته شویو تلفاتو کې ۲۳ سلنه کموالی ثبت کړی. یوناما په تیرو څو کلونو کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو فشاري توکو او د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په اړه د جګړې له ښکیلو خواوو سره د مدافعې په زیاتو هڅو کې ښکېل ده.

**دولت پلوه ځواکونه**

یوناما د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او جون د ۳۰ نېټو ترمنځ دولت پلوه ځواکونو ته ۱۰۴۷ ملکي تلفات منسوب کړي، چې په اټکلي ډول د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې سره ورته دي. دولت پلوه ځواکونو د ۲۰۱۸ په لومړۍ نیمایي کې د ټولو ملکي تلفاتو د ۲۰ سلنې لامل شوي (۱۷ سلنه د افغان ملي امنیتي ځواکونو، دوه سلنه د نړیوالو نظامي ځواکونو او یوه سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا اوښتي).

نومورې اداري دولت پلوه ځواکونو (په ځانګړي ډول افغان ملي امنیتي ځواکونو) ته د ځمکنیو نښتو له امله په رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو کې ۲۱ سلنه کموالی مستند کړی، که څه هم دغه کموالی د هوایي بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی له امله بیرته سر په سر (جبران) شوی.

د ۲۰۱۸ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې په هوایي بریدونو کې د پام وړ زیاتوالی په اړه د یو شمیر راپورونو په ترلاسه کولو سره، یوناما د هوایي بریدونو له امله ۳۵۳ ملکي تلفات (۱۴۹ مړینې او ۲۰۴ ټپیان) مستند کړي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۵۲ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.[11] د ځانګړې اندېښنې وړ ده، چې ښځې او ماشومان د هوایي بریدونو د تلفاتو له نیمایي څخه زیاته برخه جوړوي، او د ۲۰۱۷ کال د لومړۍ نیمایي په پرتله د دغو بریدونو له امله د ماشومانو تلفات ۶۴ سلنه لوړ شوي.

---

[7] یوناما د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او د جون د ۳۰ نېټو ترمنځ د هغو بریدونو له امله چې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي ۱۸۰۶ ملکي تلفات (۶۴۹ مړینې او ۱۱۵۷ ټپیان) ثبت کړي، او په ۲۰۱۷ کې د ورته مودې پرمهال د دغه ډول بریدونو له امله د ۱۴۱۶ ملکي تلفات (۴۶۸ مړینې او ۹۴۸ ټپیان) ثبت کړي. په دغو ارقامونو کې هغه بریدونه نه دي شامل چې افغان ملي پولیس یې په نښه کړي، کومو چې ۳۲۲ ملکي تلفات (۱۱۵ مړینې او ۲۰۷ ټپیان) رامنځ ته کړي، سره له دې چې انګیرل کیږي چې پولیس ملکي موقف لري، او ځینو یې ښایي د برید پرمهال په جګړه کې په مستقیم ډول برخه اخیستې وي.

[8] د ۲۰۱۸ د جنوري د لومړۍ او د ۳۰ نېټو ترمنځ، د هغو بریدونو له امله چې دولتي ملکي ادارې په نښه کوي ۶۰۰ ملکي تلفات (۱۸۵ مړینې او ۴۱۵ ټپیان) ثبت کړي، د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې پرمهال د دغه ډول بریدونو له امله د ۱۵۲ ملکي تلفاتو (۴۹ مړینې او ۱۰۳ ټپیان) په پرتله.

[9] یوناما په ۲۰۱۷، ۲۰۱۶ یا ۲۰۱۵ کلونو کې د ټاکنو اړوند کوم ملکي تلفات نه دي ثبت کړي، ځکه چې په دغو کلونو کې ټاکنې نه دي ترسره شوي.

[10] طالبانو د ۲۰۱۸ کال په لومړۍ نیمایي کې د ۲۶ هغو بریدونه مسوولیت په غاړه اخیستی چې ملکي وګړي یې په نه نښه کړي او له امله یې ۴۵۳ ملکي تلفات (۱۷۵ مړینې او ۲۷۸ ټپیان) رامنځ ته شوي، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په ۴۲۱ سلنه په ډاګه کوي. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د ۱۵ هغو بریدونو مسوولیت اخیستی چې ملکي وګړي یې په نښه کړي او ۵۹۵ ملکي تلفات (۱۶۱ مړینې او ۴۳۴ ټپیان) یې اړولي، یو ۳۷۶ سلنه زیاتوالی.

[11] یوناما د ۲۰۱۷ کال په لومړۍ نیمایي کې د هوایي بریدونو له امله ۲۳۲ ملکي تلفات (۹۵ مړینې او ۱۳۷ ټپیان) مستند کړي.

د دغه زیاتوالی زیاتره برخه د اپریل پر دویمه نېټه د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ د هغې پېښې په پایله کې رامنځ ته شوې، چیرې چې دولتي ځواکونو په یوه مدرسه کې مذهبي مراسم په نښه کړل، چې له ۱۰۰ زیات تلفات یې واړول، چې زیاتره یې ماشومان وو.[12] یوناما دولت دې ته هڅوي، څو یقیني کړي چې د هدف نښه کولو پروتوکولونو کې رامنځ ته شوي بدلونونه تعقیبوي او د دغې پېښې په تعقیب د قربانیانو لپاره د خسارې د جبران ژمنه کوي.[13] نوموړې ادارې د هوایي بریدونو له امله د ټولو رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه افغان هوایي ځواک، ۴۵ نړیوالو نظامي ځواکونو او پاتې دری سلنه نا مشخص شویو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي.

یوناما دغه راز د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو نظامي ځواکونو ترمنځ د ګډو عملیاتو په ګډون، د چاپیزو عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې د زیاتوالي په اړه د اندېښنې یادونه کوي. په ځانګړې ډول، د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو لکه د خوست ساتنې ځواک زیات شمیر ملکي تلفات او نورې سرغړونې رامنځ ته کړې. دغه ځواکونه د ځانګړې اندېښنې وړ دي، څرنګه چې معلومیږي، چې زیات شمیر دغه ځواکونه د افغان ملي امنیتي ځواکونو د قوماندې له لړۍ د باندې فعالیت کوي، چې د دوی په وړاندې د هر ډول تور د څېړلو لپاره په څرګند ډول د تعریف شوي عدلي تعقیب د نشتون په پام کې نیولو سره، د څرګند تفتیش او احتساب د نشتون لامل کېږي.

د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره د افغان دولت له خوا اقدامات دوام لري، چې د دوی د عملیاتو په پایله کې په ملکي مرګ ژوبله کې د کموالي لامل شوی ، په تیره بیا د ځمکنیو نښتو له امله ، چې په همدې برخه کې یوناما په دې وروستیو کلونو کې په منظم ډول د جګړې له ښکیلو خواوو سره د ملکي وګړو د خوندي ساتنې مدافع او ملاتړ هڅې متمرکزې ساتلي. یوناما د ملکي تلفاتو د کمونې او مخنیوي په اړه د ملي پالیسي د تطبیق، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو په تړاو د څینو دودیزو وسلو په اړه د کنوانسیون د پنځم پروتوکول، کوم چې د ۲۰۱۸ د فبروري پر ۹ نېټه نافذ شو، په تعقیب د حکومت د مسوولیتونو د پر ځای کولو په لور د حکومت له خوا د پورته شویو روانو ګامونو هرکلی کوي. نوموړې اداره بیا د دې یادونه کوي چې نړیوال نظامي ځواکونه د دې مسوولیت لري، څو د دې په یقیني کولو کې مرسته وکړي، چې دولت د پنځم پروتوکول لاندې خپل مکلیفیتونه رعایت کوي او تر ممکن حده نړیواله ټولنه د ملاتړ برابرولو جاري ساتلو ته هڅوي.

**د کوچني اختر اوربند**

د ۲۰۱۸ کال د جون له ۱۵ تر ۱۷ نېټې پورې د دریو ورځو مودې لپاره، چې د کوچني اختر د رخصتیو له پیل سره په سمون کې و، د حکومت او طالبانو هر لوري له خوا یو اړخیز اوربند اعلان شو، چې له امله یې په ربښتیني ډول په ۱۷ کلونو جګړه ودرول شوه. د جګړې دریدو د عادي افغانانو لپاره د ګرځیدو د ازادۍ د دې فرصتونه رامنځ ته کړل، چې یو شمیر یې د طالبانو تر کنترول لاندې سیمو کې خپلې کورنۍ ولیدې، د کومو له لیدو چې دوی د کلونو کلونو لپاره منع شوي وو. دغه اوربند همدارنګه د هغو بې شمیره ملکي افغانانو ژوند وژغوره، څوک چې په پراخو کچو د وسله والې جګړې له کړاو سره مخ دي. په ننګرهار ولایت کې د جون پر ۱۶ او ۱۷ د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا ادعا شویو دوه ځانمرګو بریدونو چې ولسي وګړي یې په نښه کړي وو، ۴۸ ووژل او ۱۳۳ نور یې ټپي کړل، هغه ظالمانه او بې رحمه بریدونه چې په ننګرهار کې یې سوله ییزه فضا ګډه وډه کړه. له دغه بریدونو پرته یوناما په دغه موده کې نور کوم ملکي تلفات نه دي مستند کړي. دغه لنډ اوربند ولسي وګړو ته په داسې یوه وخت کې د هیلې یو څرک وړاندې کړ، چیرې چې ښایي زیاتو د دې تصور کولو وړتیا نه درلوده چې ګوندې دغه وقفه به را منځ ته شي. یوناما هیله منده ده، چې په افغانستان کې د جګړې ښکیلې خواوې د جګړې یو پاتې کیدونکي سوله ییز حل ته رسیدای شي، د یوې غوره لار په څیر چې دوی په غوره توګه ملکي وګړي د جګړې له زیان څخه ژغورلی شي، هغه د جګړې پای ته رسول دي.

---

[12] د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې د ۲۰۱۸ د اپریل پر ۲ د هوایي برید په اړه د یوناما ځانګړی راپور وګورئ، چې د ۲۰۱۸ په مئ کې خپور شوی او په دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی..http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[13] د جولای تر ۱۰ نېټې پورې یوناما راپورونه تر لاسه کړي چې له دې قربانیانو څخه زیاتو یې د خسارې جبران ندی تر لاسه کړی. د مختلفو دخیلو منابعو له خوا راپور شوي چې قربانیانو ته د ورکړل شوي رقم ، د مستحقو خلکو د تشخیص او د دې پروسې په اړه نور اندیښنې شتون لري.




د لا زیاتو مفصلو معلومات لپاره، په وسله واله شخړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما راپورونه وګورئ (پر دغې انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports )